# خدائي خدمتګار

# احمد ګل نېک عرف نېک بابا

**نبي ګل محمدزے**

پښتون قوم ته دا اعزاز حاصل دے چې چرې ئې غلامي نۀ ده منلې او په هره موقع ئې د ازادۍ د پاره هلو ځلو کښې نۀ صرف د ځان قرباني ورکړې ده، بلکې مال حال د کورونو او د بچو پورې ئې د ازادۍ خواه کۀ هغه مذهبي وي، د وطن د پاره وي يا د قوم د پاره هېڅ قسمه دريغ او ډډه نۀ ده کړې.

هم دغسې د انګرېزانو د ظلم زياتي، د بنيادي حقونو ضبط کول او هر طرف ته د پښتون قوم قتلولو خلاف د پښتنو په سيمه يو داسې ځوان پيدا شوچې نوم ئې فخر افغان خان عبدالغفار خان ؤ چې هغۀ ټول پښتانۀ په ډېر زيار او محنت راغونډ کړل چې په هره توګه په خپله خاوره خپل اختيار وګټي. خواه کۀ هغه مذهبي وي يا معاشرتي او اقتصادي.

د ډېرې مينې نه دې ظلم زپلي قوم خپل بابا ته د باچا خان خطاب ورکړو او ورسره ئې لوظ وکړو چې په هره طريقه چې وي ازادي به حاصلوي. هم په دې ډول د باچا خان ملګري راغونډ شول چې سرخپوش (خدائي خدمتګار) تحريک نومېدو په هغو سپاهيانو کښې يو سپاهي احمد ګل نېک چې په نېک بابا مشهور ؤ شامل ؤ.

احمد ګل نېک د چارسدې اوسېدونکے ؤ او د چارسدې محله بوسه خېل کښې پېدا شوے ؤ. په ۱۹۳۰ء کښې د انګرېزانو خلاف هندوستان پرېږدئ او رېښمي رومال تحريکونو کښې برابر شريک ؤ. هغه وخت د دۀ ځواني وه او هم دغه ځوانۍ کښې د خپل قوم مشر ګڼلے شوے ؤ. دے د باچا خان د مذهبي خدماتو نه ډېر متاثره ؤ، هم دا وجه وه چې د باچا خان د علماء دېوبند سره د عقيدې د وجې دے هم دېوبندي ؤ. د سر درياب مرکز جوړېدو نه پس د باچا خان سره هلو ځلو کښې جېل ته لاړو او د ژوند زياته برخه ئې د انګرېزانو خلاف باچا خان سره جېل کښې تېره کړه.

د تحريک په اجلاسونو کښې چې اکثر به غازي ګل بابا جومات کښې کېدل، د نېک بابا نور ملګري چې هغې کښې سالار اينځرګل، داد محمد جرنېل، عزت خان جرنېل د بهلول خېلو، راحت شاه باچا د قاضي خېلو، ګل رسول مست، شېردل خان بابا زوړ اېم پې اې به اجلاسونو کښې شرکت کوو.

احمد ګل نېک نۀ صرف باچا خان سره د ازادۍ په جنګ کښې ملا تړلې وه، بلکې د خپل بدنصيبه قوم د ښکلي ژوند د پاره ئې د هر قسمه

قرباني نه چرې ډېره هم نهٔ ده کړې. نبک بابا څهٔ لوئے زمېندار هم نهٔ ؤ، بس ګوزاره حال زمکه ئې لرله. دوه زامن ئې وو چې شهزادګل او پشم ګل نومونه ئې وو، مضمون ليکونکے د شهزاد ګل زوي چې د نبک بابا نمسے دے.

نبک بابا د باچا خان په ټولو اصولو عمل کړے دے او تعليم سره ئې ډېره مينه وه، په هم دې وجه ئې په خپلو بچو او نمسو بنهٔ تعليم کړے ؤ. په ځائے د دې چې د خپلو بچو محبتونه ئې قربان کړي وو او زيات عمر د قېدوبند سختې ئې تېرې کړې دي. د خپلو خپلوانو کښې ئې څهٔ خلق نورو پارټو کښې وو. په خاصه توګه هغه وخت چې مسلم ليګو او د باچا خان د ملګرو دشمني حد ته رسېدلې وه، ولې نبک بابا ورسره نهٔ غم ښادي پرېښودې وه او نهٔ ئې ترې چرته ګيله کړې وه. بلکې په هر قسمه حالاتو کښې ئې د صبر او استقامت نه کار اخستے ؤ.

د نبک بابا هغه وخت جسماني او ذهني طاقت کمزورے شو چې څهٔ وخت باچا خان د افغانستان جلاوطني ختمه کړه او د جلال اباد نه د تورخم په لاره راتلو او د بس په حادثه کښې د بوسه خېلو د پيرانو د کورنۍ ختک پير شهيد شو او نبک بابا زخمي شو. وروستو بيا روغ جوړ شو او په خپلو تنظيمي سرګرمو کښې ئې حصه اخسته. اوس هم د هغهٔ هغه يونيفارم چې د جرنېلۍ د دور دے محفوظ پروت دے.

د صدر ايوب خان د دور نه راواخله د يحيیٰ خان، بوټو تر دور نبک بابا جېلونه خوړلي دي او په خاصه توګه د حيات خان شېرپاؤ د مرګ په الزام کښې ئې هم درې مياشتې جېل خوړلے ؤ. بستره به هر وخت تياره پرته وه چې پکښې پيالۍ او د اوبو څښلو د پاره جام هم ؤ. نبک بابا خوش طبيعته ؤ، لوړه جُثه، سپين کونډهٔ کړې برېت او هر وخت لکه د فخر افغان به ئې خړې جامې اچولې وې او خړ څادر به ئې په اوږه ؤ.

خپل کلي کښې او بهر به ئې هم د خلقو د جنګ جګړو فېصلې کولې او اکثر به ئې د خپله جېبه تاوان ادا کوو.

احمدګل نبک عرف نبک بابا په ۱۸ جون کال ۱۹۷۹ء کښې وفات شو او غازي ګل سره نزدې خاورو ته وسپارل شو.

نبک بابا به همېشه په دولسم اګست د جلسې په اهتمام کښې ذاتي دلچسپي اخسته او د بابړې شهيدانو ته به ئې پېرزوئنې پېش کولې. هم دغه وجه وه چې د لرې پرتو علاقو خلق چې به د شپې جلسې ته په ډېره مينه راتلهٔ، نبک بابا به ورله په خاصه توګه د استوګنې، د چائے ډوډۍ انتظام کوو او د شپې به ئې اکثر ورله ځلور پنځهٔ دېګونه د وريژو پخول، د هغهٔ خپل مظلوم قوم سره بې کچه مينه وه.

چې کوتلي دي په تېغ ستا د چشمانو
سر حلقه وي د جمله وو شهيدانو
ستا وصال د سر پرېکړو دے دلبره
ژوندي نهٔ مومي جنت بې مردګانو

(رحمان بابا)

## تصحيح

په تېره ګڼه کښې د ډاکټر خان صاحب په مضمون کښې دوه ځايه د هغوي د وفات کال د ۱۹۵۸ په ځائے سهواً ۱۹۸۵ ليکلے شوے دے. اداره د دې بخښنه غواړي.